رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته د حاجت خطبه راښودلې ده

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته د حاجت خطبه راښودلې ده(او هغه داسې ده): حمد او ثنا الله لره ده، مونږ له هغه څخه مرسته او بښنه غواړو، په هغه د خپلو ځانونو له شر څخه پناه غواړو، چاته چې الله هدايت وکړي د هغه لپاره ګمراه کوونکی نشته، او څوک چې ګمراه کړي هغه لره هدايت کوونکی نشته او زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل حق مبعود نشته او دا چې محمد صلى الله عليه وسلم د هغه بنده او رسول دی، {اې خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ هغه چې تاسو يې له يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه نه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، او له دغو دواړو نه يې (په ځمکه کې) ډېر سړي او ښځې خواره کړل، او له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په (نامه) سوال کوئ او د خپلوﷺ له پريکولو نه (ووېرېږئ)، بېشکه الله پر تاسو باندې ښه ساتونکی (نګهبان) دی[النساء: 1] (اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له الله نه ووېرېږئ، څنګه چې له هغه نه د وېرېدلو حق دی او تاسو مه مرئ مګر په داسې حال کې چې تاسو مسلمانان يئ) [آل عمران: ١٠٢] {اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو له الله نه ووېرېږئ او خبره کوئ ډېره سمه (درسته) خبره [٧٠] هغه به تاسو ته ستاسو عملونه سم (او صالح) کړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او هر څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي، نو يقيناً دغه کامياب شو، په ډېر لوی کاميابېدلو سره [الاحزاب: 70-71].

[صحيح دی] [أبو داود، الترمذي، النسائي، ابن ماجه او أحمد روايت کړی دی]

ابن مسعود رضي الله عنه خبر ورکوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوی ته د حاجت خطبه ښودلې ده، او دا هغه خطبه ده چې په خطبو کې د خبرو په پيل او د معاملې په پيل کې ويل کيږي لکه: د نکاح خطبه، د جمعې خطبه او داسې نور، دا خطبه لويو معناوو ته شامله ده لکه دا چې؛ الله جل جلاله د هر ډول ستاينې مستحق دی، او يوازې له هغه څخه مرسته غوښتل کيږي چې شريک نه لري، په ګناهونو پرده اچول او بنده ته ترې تېريدل، او هغه ته له هر شر څخه پناه وړل، د نفس او نورو شرونو څخه. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې هدايت د الله جل جلاله په لاس کې دی، چا ته چې هدايت وکړي هغه لره ګمراه کوونکی نشته، او څوک يې چې ګمراه کړ نو هغه لره هدايت کوونکی نشته. بيا يې د توحيد ګواهي ذکر کړه چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او په رسالت ګواهي چې محمد - صلى الله عليه وسلم - د الله بنده او د هغه رسول دی. او خطبه يې پدې دريو آيتونو سره پای ته ورسوله چې د الله جل جلاله د رضا دلاسته راوړلو په خاطر پکې د الله جل جلاله په تقوا او د هغه د اوامرو په پر ځای کولو او له نواهيو څخه يې په ځان ساتلو امر شوی او دا چې د هغه چا بدله چې دا کار يې وکړ د عملونو او ويناوو اصلاح، د ګناهونو بخښل، په دنيا کې پاکيزه ژوند او په قيامت کې د جنت ګټل دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58060